**بسم الله الرحمن الرحيم**

## پاکستاني چارواکو د مسجدالأقصی له اشغالگرو سره یو ځای د سمندري پوځي تمریناتو له امله له اسلامي امت سره یو بل لوی خیانت وکړ

**خبر:**

د ۲۰۲۲م، د فبروري په اوولسمه د پنجشنبې په ورځ د "یهودي سمندري ځواک اداري" تایید کړه، چې د امریکا په مشرۍ په سمندري تمریناتو کې یې له پاکستان، سعودي عربستان او نورو هغو هوادونو سره یو ځای ګډون کړی، چې له یهودي دولت سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې نه لرلې.

**تبصره:**

د ۲۰۲۲م، د فبروري په پیل کې داسې راپورونه خپاره شول، چې پاکستان د ۲۰۲۲م، د جنوري په یو دېرشمه د امریکا لخوا په جوړو شوو نړیوالو سمندري تمریناتو کې د ګډون لپاره خپله سمندري بېړۍ لیږلې ده، چې په یادو سمندري تمریناتو کې یهودي دولت هم برخه اخیستې وه. د باجوه او عمران ریژیم تر اوسه د دې خبر د تایید او رد جریات نه دي ورکړي، خو اوس یهودي دولت تایید کړې، چې په دغو سمندري تمریناتو کې یې د پاکستان او یو شمېر نورو اسلامي هېوادونو د سمندري ځواکونو تر څنګ دوی هم برخه اخیستې وه. له بده مرغه دا پېښه نه په ټولنیزو رسنیو او نه هم آزادو رسنیو کې یاده شوې او نه هم په سیاسي جریانونو کې وربانديې بحث شوی. د باجوه او عمران ریژیم دغه عمل د الله سبحان وتعالی، رسول ﷺ او اسلامي امت سره لوی خیانت بللی شو، دا یو خیانت دی ځکه چې اسلام اجازه نه ده ورکړې، چې اسلامي خاوره دې په اشغال کې پرېښودل شي، د فلسطین خاوره د پیغمبرانو خاوره ده، دا هغه خاوره ده چې د رسول الله صلی علیه وسلم د صحابه کرامو په لاس ازاده شوې او دا هغه ځمکه ده چې د زرګونو شهیدانو د وینو په بدل کې یې ازادي تر لاسه کړې ده. لکه څرنګه چې تر ټولو غوره امت باید د الهي شریعت پر لوري روان وي او یوازې اسلامي امت د دې حق دعوه لري، خو د باجوه او عمران ریژیم د دې پر ځای چې د فلسطین د سپېڅلې ځمکې د ازادولو لپاره کار وکړي؛ له یهودي دولت سره خپلې اړیکې د پیژندګلوۍ او عادي کولو لپاره ټینګوي، دا هغه حکومت دی چې د هندوانو د اشغال پر وړاندې یې کشمیریان د الله اسرې ته پرېښودل او دا پېښه د ۲۰۱۹م، په اګیست کې رامنځ ته شوه، چې له مخې یې اشغال شوی کشمیر له هندوستان سره وتړل شو. د وسله والو ځواکونو او عامو مخلصو مسلمانانو له سختو فشارونو سره سره تراوسه پورې دې خاین ریژیم هېڅ پوځي اقدام ونکړ او نه یې هم زړورو خلکو ته اجازه ورکړه، چې د کنټرول له کرښې تېر شي او هلته د هندي اشغالګرو سره جګړه وکړي. پاکستاني چارواکي په کفارو دومره زیات مهربانه دي، چې د کشمیر مسئلې څخه علاوه په اشغال شوي ختیځ ترکستان کې د چین حکومت له ظلمونو څخه هم انکار کوي، اقدام خو لرې خبره ده.

له ابن مسعود رضی الله څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**"إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ"**

*ژباړه: په حقیقت کې هغه خبرې چې خلک یې له پیغمبرانو څخه تر لاسه کوي دا دي: څوک چې شرم او حیا نه لري؛ څه یې چې زړه غواړي هغسې دې وکړي. "بخاری"*

پاکستاني چارواکي هېڅ شرم نه لري، له هغه چا سره اړیکې ټینگوي، چا چې زموږ سپیڅلې خاوره اشغال کړې او زموږ ورونه او خویندې یې شهیدان کړي او دغه پروسه لا هم دوام لري. د باجوه او عمران ریژیم په ښکاره توگه د اشغال شویو ځمکو د ازادولو په اړه د الله سبحان وتعالی له واضح حکمونو څخه سرغړونه کوي، دا باید هېره نه کړو چې څوک زور لري او زورور له گریوانه نه رانیسي؛ په اسلامي امت باندې د تیرېدونکو ټولو جرمونو مسؤل دی.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**{وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ}** [الأنفال : 25]

***ژباړه:*** *او له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزه به په ځانگړي توگه یوازې پر هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي، چې په تاسو کې چا گناه کړې وي. او وپوهېږئ چې الله سخت سزا ورکونکی دی.*

د پاکستان مسلمانان او په ځانگړي توگه په وسله والو ځواکونو کې باید د غدارانو مخه ونیول شي. دا کار هغه وخت په اغېزمنه توگه ترسره کېدای شي، چې په وسله وال پوځ کې مخلصین، حزب التحریر ته د نبوت په طریقه د خلافت د بیا تأسیس لپاره نصرت ورکړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکنه: انجنیر شهزاد شیخ**

**ژباړه: حمزه صدیقي**